# شبِ براءت

## څنګه تیرول پکار دي؟

17-March-2022

هفته وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

د 17 مارچ 2022ء د هفته وارې اجتماع بيان

# شبِ براءت خنګه تيرول پکار دي؟

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ! فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَارَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَاحَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَانَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَانُوْرَ اللّٰه

| | |
|---|---|
| نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف | (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو) |

## د دُرُود شريف فضيلت

حضرت اِمام جعفر صادِق رضی اللہ عنہ فرمائي: څوک چې په شَعْبَانُ الْمُعَظَّم كښې هره ورځ 700 ځله دُرُودِ پاك لولي، **اللّٰه** پاك به څه فرښتے مقررې كړي كومې چې به د هغه دُرُود شريف د رَسُـولُ اَكرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! باركاه ته رسوي، په دې به د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رُوح مبارك خوشحاليږي، بيا به **اللّٰه** پاك هغه فرښتو ته حكم اوفرمائي چې د دې دُرُودِ پاك لوستونكي د پاره تر قيامته پورې د بخښنې دُعاګانې كوئ.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشِقانِ رسول! شَعْبَانُ الْمُعَظَّم خپل بركتونه راوروي، صبا به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! شبِ براءت يعني د نجات شپه وي، د دوزخ نه د خلاصيدو شپه ❀ دا د ډيرو بركتونو ❀ عظمتونو شپه ده ❀ په دې شپه **اللّٰه** پاك په خپلو بندګانو باندې خاص رحم او كرم كوي ❀ په لكونو ګنهګاران بخښلے كيږي ❀ شبِ براءت د دُعاګانو قبليدو شپه ده

[1]...القول البديع، صفحه:208۔

✿ شبِ براءت د رزق تقسيمدو شپه ده ✿ په دې شپه چې په رزق کښې د برکت د پاره دُعا اوغوښتلے شي قبليږي.

## د خير او برکت دروازه بيرته کيدو شپه

زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمائي: اللّٰه پاك په څلورو شپو کښې د خير دروازے بيرته کوي: **(1)** د لوئ اختر په شپه **(2)** د وړوکي اختر په شپه **(3)** د شعبان په پينځلسمه شپه چې په دې شپه د مړ کيدونکو نومونه، د خلقو رزق او د حج کوونکو نومونه ليکلے کيږي **(4)** د عرفے (يعني د 9 ذُوالحج) شپه.[1]

## د بخښنې شپه

په **شُعَبُ الْاِيْمَان** کښې حديثِ پاك دے، خوږ آقا، مکي مدَني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د شعبان په پينځلسمه شپه يو آواز کوونکے آواز کوي: ✿ شته څوك بخښنه غوښتونکے چې د هغه بخښنه اوکړے شي ✿ شته څوك غوښتلو والا چې هغه ته ورکړے شي، بس د بدکارې ښځې او مشرك نه علاوه کوم بنده چې خپل حاجت طلب کړي، د هغه حاجت به پوره کړے شي.[2]

## د براءت په شپه د آقا کريم مشاهدات

په اِبْنِ عَسَاکِر کښې دي: يو ځل د شعبان په پينځلسمه شپه د فرښتو سردار حضرت جبريلِ اَمين عَلَيهِ السَّلَام د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په خدمتِ اقدس کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم! پاځئ! لمُونځ ادا کړئ، دا هغه

---

[1]…تفسيرِ دُرِّ منثور، سورۂ دُخان، زيرِ آيت:1تا5، جلد:7، صفحه:402۔

[2]…شُعَبُ الْاِيْمَان، بابٌ فِي الصِّيَام، جلد:3، صفحه:383، حديث:3836۔

شپه ده چې په دې کښې د رحمت 300 دروازې بېرته کېږي، په دې شپه ✿ د اللّٰه پاك سره شريك ګرځوونکو ✿ په خپل مينځ کښې بُغض او کينه (يعنى په زړه کښې دُښمني) ساتونکو ✿ شرابيانو ✿ او بدکارو خلقو نه علاوه د ټولو بخښنه کېږي.

زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جَنَّتُ الْبَقِيْع (يعني د مدينے مُنَوَّرے اديرې) ته تشريف يوړلو او سر مبارك ئې په سجده کښې کېښودو، او داسې دُعا ئې اوغوښتله: اَعُوْذُ بِعَفْوِكَ مِنْ عِقَابِكَ وَاَعُوْذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَ اَعُوْذُبِكَ مِنْكَ جَلَّ ثَنَاءُكَ لَا اَبْلُغُ الثَّنَاءَ عَلَيْكَ اَنْتَ كَمَا اَثْنَيْتَ عَلٰى نَفْسِكَ

**ترجمه:** اے اللّٰه پاكه! زه ستا د عذاب نه ستا د مُعافَـۍ، ستا د ناراضۍ نه ستا د رضاء، او ستا [د غضب او ناراضۍ] نه ستا پناه غواړم. (اے اللّٰه پاكه!) ستا تعريف اوچت دے، زه ستا د تعريف حق نه شم ادا کولے، ستا حقيقي شان هغه دے کوم چې تا پخپله بيان کړے دے.

بيا د شپې په څلورمه حِصَّه کښې حضرت جبريلِ اَمِين عَلَيْهِ السَّلَام بيا حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! خپل سر آسمان طرف ته اوچت کړئ! خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله خپل سر مبارك آسمان طرف ته اوچت کړو نو اوئې ليدل چې د رحمت دروازے بېرته دي، د هرې دروازے نه يوه فرښته اِعلان کوي: ✿ د اوَّلنۍ دروازے فرښتے غږ کولو چې: په دې شپه کښې د عبادت کوونکي دِ مبارك شي ✿ د دويمې دروازے فرښتې اعلان کولو: د هغه دِ مبارك شي څوک چې په دې شپه سجده کوي، ✿ د دريمې دروازے فرښتې وئيل: د هغه دِ مبارك شي څوک چې په دې شپه کښې رکوع کوي ✿ د څلورمې دراوزے فرښتې دا غږ کولو: په دې شپه د خپل ربِّ کريم نه د دُعا غوښتونکي دې مبارک شي ✿ د پينځمې دروازے فرښتې داسې غږ کولو: د هغه دِ مبارك شي څوک چې په دې شپه د اللّٰه پاك په بارګاه کښې مناجات کولو کښې مصروف وي، ✿ د شپږمې دروازے فرښتې دا اعلان کولو: دا شپه دِ د مسلمانانو

مبارك شي، ❀ د اوومې دروازے فرښتې وئیل: د اللّٰه پاك يَو [یعني وَحۡدَہٗ لَاشَرِیۡک] منونکو ديِ مبارك شي ❀ په اتمه دروازه كښې فرښتې داسې وئیل: څوك توبه كوونكے شته چې د هغه توبه قبوله كړے شي، ❀ د نهمې دروازے فرښتې دا اعلان كولو: شته څوك بخښنه غوښتونكے چې هغه اوبخښلے شي؟ ❀ د لسمې دروازے فرښتې وئیل: شته څوك دُعا كولو والا چې د هغه دُعا قبوله كړے شي.

خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې كله د رحمت نه دا ډك منظر اولیدلو نو اوئې فرمائیل: اے جبریله عَلَیۡہِ السَّلَام! دا دروازے د كوم وخت پورې بیرته وي؟ عرض ئې اوكړو: د شپے د شروع كیدو نه تر صبا راختلو پورې به دا دروازے هم دغه شان بیرته وي.[1]

## شبِ براءَت د فرښتو د اختر شپه ده

حُجَّۃُ الاسلام امام محمد بِن محمد غزالي فرمائي: وئیلے شوي دي چې څنګه د مسلمانانو د پاره د اختر دوه ورځې دي، دغسې د اسمانونو د فرښتو د پاره دوه شپے د اختر دي: (1) شبِ براءت او (2) دویمه شبِ قدر[2]

## د ټول كال د ګناهونو كفَّاره

اِمام سُبكي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: ❀ شبِ جُمُعه (یعني د جُمعې مباركې شپه) د ټولې هفتې د ګناهونو كفَّاره جوړیږي ❀ شبِ براءت [یعني د 15 شعبان شپه] د ټول كال د ګناهونو كفَّاره جوړیږي او ❀ شبِ قدر د ټول ژوند د ګناهونو كفَّاره جوړیږي. یعني په دې شپو

---

1 …اِبۡنِ عَسَاکِر، جلد:51، صفحه:7372۔

2 …مكاشفة القلوب، صفحه:303۔

کښي د **اللّٰه** پاك عبادت کول او د **اللّٰه** پاك په ياد کښي شوګيره کول [يعني ويښ پاتې کيدل] د ګناهونو کفَّاره جوړيږي. ځکه دې شپو ته د **کفَّارې شپې** هم وئيلے کيږي.[1]

## شبِ براءت د عبادت شپه ده

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** شبِ براءت د عبادت شپه ده، په دې شپه د زړه نه د غفلت پردے لرې کول او د **اللّٰه** پاك په ياد کښې شپه تيرول ډير لوئ سعادت دے. د **اللّٰه** پاك آخري نبـي، رسُولِ هاشمـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چې پينځه شپې ژوندئ کړې (يعني په ويښه عبادت کښې ئې تيرې کړې) د هغه د پاره جنت واجب شي **(1)** **تَرْوِيَه** (يعني د 8 ذُوالحج) شپه **(2)** **عَرَفَه** (يعني د 9 ذُوالحج) شپه **(3)** **عِيْدُ الْاَضْحٰی** (يعني د 10 ذُوالحج) شپه **(4)** د **عِيدُ الْفِطر** (يعني د وړوکي اختر) شپه **(5)** د شعبان پينځلَّسمه شپه.[2]

## شبِ براءت کښي د آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم معمولات

د ټولو مسلمانانو خوږه مور حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهَا فرمائي: يو ځل خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په لمَانځه اودريدلو، خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دومره اُوګده سجده اوکړه چې زما ګمان شو چې چرته د سجدے په حالت کښې د هغوئ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رُوح قبض شوے نه وي. داسې خيال راتلو سره زه پاڅيدم او د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غټې ګوتې مبارکې له مې لاس وروړو، چې حرکت مې محسوس کړو نو تسلي مې اوشوه، د لمَانځه نه د فارغيدو نه پس خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل:

---

[1]...مکاشفة القلوب، صفحه:303۔

[2]...الترغيب و الترهيب، کتَابُ العيدَين، جلد:2، صفحه:98، حديث:2۔

اے عائشه! تا ته پته ده چې نن کومه شپه ده؟ ما عرض اوکړو: اللّٰه پاك او د هغه رسول صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښه پوهيږي. اوئې فرمائيل: دا د شعبان پينځلسمه شپه ده، په دې شپه اللّٰه پاك په خپلو بندګانو باندې د رحمت نظر کوي، بخښنه غوښتونکي بخښي او په رحم غوښتونکو باندې رحم کوي.[1]

يو ځل د شعبان پينځلسمه شپه راغله نو خوږ نبـي صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټوله شپه لمُونځ کولو، تر دې پورې چې سحر شو، اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن حضرت عائشه صِدِّيقه رضی اللہ عنہا فرمائي: ټوله شپه د لمَانځه ادا کولو له وجهې د خوږ نبـي صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښپې مبارکې پړسيدلې وې، نو ما د خوږ نبـي صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ښپو مبارکو زور کولو سعادت حاصل کړو.[2]

کله به داسې هم کيدل چې خوږ آقا صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د شعبان په پينځلسمه شپه اديرے ته تشريف وړلو او د خپل اُمَّت د پاره به ئې دُعاګانې کولې. په حديثِ پاك کښې دي: يو ځل خوږ آقا صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شعبان په پينځلسمه شپه **جَنَّتُ الْبَقِيْع** ته تشريف يوړلواو هلته ئې د مسلمانانو نارينؤ، زنانؤ او شهيدانو د پاره د بخښنې دُعاګانې کولې.[3]

## د براءت په شپه د خوږ آقا صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نمسي معمول

د خوږ آقا صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نمسي حضرت اِمام حَسَن رضی اللہ عنہ معمول وو چې هغوئي به د براءت شپه په دريو حِصّو کښې تقسيموله، د شپې په وړومبۍ حِصّه کښې به ئې په خپل نيکه رَسُولِ اکرَم صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې دُرُود شريف لوستلو، دويمه حِصّه

---

[1]...شُعَبُ الايمان، جلد:3، صفحه:382و383، حديث:3835۔

[2]...دَعْواتُ الكبير للبيهقي، جلد:2، صفحه:145، حديث:530ماخوذاً۔

[3]...شعب الايمان، جلد:3، صفحه:384، حديث:3837۔

کښې به ئې اِستِغفار (يعني د **الله** پاك په بارګاه کښې د بخښنې سُوال) کولو او په دريمه حصّه کښې به ئې نفلونه کول۔

د هغوئي نه تپوس اوکړے شو: داسې کوونکو د پاره څه ثواب دے؟ اوئې فرمائيل: ما د خپل والِد (يعني د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي رضی اللہ عنہ) نه اوريدلي دي چې نبي کريم صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمائي: څوك چې د شعبان پينځلسمه شپه ژوندئ کړي (يعني دا شپه په عبادت کښې تيره کړي) هغه د **الله** پاك د مُقَرَّبو بندګانو په فهرست کښې ليکلے کيږي.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د افسوس خبره دا ده چې اوس زمونړه حال بِنه نه دے. افسوس! اوس خلق د شَعْبَانُ الْمُعَظَّم په دې شپه پټاخے خلاصوي، ډزې کوي، وخت او پيسه دواړه بربادوي، په کوڅو کښې شور کوي او پته نه لګي چې څنګه څنګه فضولو بلکه د ګناهونو ډکو کارونو کښې اخته شي او د بخښنې دا شپه د **الله** پاك او د هغه د رسول په نافرمانئ کښې تيروي.

## ګناه د الله پاك سره جنګ دے

**الله** پاك دِ مونږ ټول د ګناهونو نه اوساتي، په اِخلاص او د زړه په مينه دِ د عبادت کولو توفيق راکړي. يقين اوکړئ! د **الله** پاك او د هغه د رسول نافرماني په دُنيا او آخرت کښې د ذِلّت وجه ده. حضرت اِمام حَسَن بصري رحمۃ اللہ علیہ به فرمائيل: اے د آدم ځويه! هلاك شې! آيا ته د **الله** پاك سره مقابله کول غواړې؟ آؤ! آؤ! چا چې د **الله** پاك نافرماني اوکړه لکه هغه چې د **الله** پاك سره جنګ اوکړو.[2]

---

[1]...القول البديع، صفحه:209۔

[2]...عُيُون الحكايات، حصه اوّل، صفحه:52۔

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! یو یو ساعت مونږه مرګ ته نزدې کوي، صبا د شعبان پینځلسمه شپه ده، خو د ژوند څه پته، معلومه نه ده چې مونږه به د شعبان پینځلسمه شپه حاصلولو کښې کامیاب شو او که نه د هغې نه مخکښې به د قبر تیارو ته کوز شو. **الله** پاك دِ مونږ ته د نیکو اوکړو ژوند را عطا کړي. که ژوند وفا اوکړه او مونږه د شعبان پینځلسمې شپې ته رسیدو کښې کامیاب شو نو نِیَّت اوکړئ چې پټاخو خلاصولو او آتش بازئ کولو باندې د د وخت او پیسو بربادولو په ځائے به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِیْم! د شعبان پینځلسمه شپه په نیکو کښې تیروو. **الله** پاك دِ مونږ ته د عمل کولو توفیق رانصیب کړي. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلّی الله علیه واٰله وسلّم

## د 15 شعبان روژه اونیسئ!

د مسلمانانو څلورم خلیفه اَمِیْرُ الْمُؤْمِنِیْن، حضرت عَلِـیُّ الْمُرتَضٰی رضی الله عنه نه روایت دے چې د نبـي کریم صلّی الله علیه واٰله وسلّم فرمان مبارك دے: چې کله د پینځلّسم شعبان شپه راشي نو په دې کښې قیام (یعني عبادت) اوکړئ او د ورځې روژه اونیسئ.[1]

## د اَمیرِ اهلِسُنَّت دامت برکاتهم العالیه یو څو نصیحتونه

د دې حدیثِ پاك ذِکر کولو نه پس شیخِ طریقت اَمیرِ اهلسنّت دامت برکاتهم العالیه فرمائي: په **شبِ بَراءَت** کښې اعمال نامې بدلیږي که مُمکِنَه وي نو د 14 **شَعبَانُ المُعَظَّم** روژه هم اونیسئ چې د اعمال نامې په آخرئ ورځ هم روژه وي. په 14 شَعبَان د مازیګر لمُونځ په جمات کښې د جَمعې سره ادا کړئ او هم هلته نفلي اِعتکاف اوکړئ او د ماښام د لمَانځه د وخت د انتِظار په نیت په جمات کښې حصار شئ چې د اعمال نامو بدلیدلو په آخري وخت کښې په جمات کښې د حاضرئ، د اِعتِکاف او د لمَانځه د

---

[1] ...اِبْنِ ماجه، جلد:2، صفحه:160، حدیث:1388۔

انتظار وغيره ثواب اوليکلے شي. **الله** پاك دِ رانصيب کړي چه ټوله شپه په عبادت کښې تيره کړو.

## دوزخ نه د آزادئ چيټئ

اَمِيرُ المُؤمِنِين، حضرت سَيِّدُنا عُمر بن عبدُالعزيز رحمۃ اللہ علیہ يو ځل د **شَعۡبَانُ الۡمُعَظَّم** په پينځلسمه شپه يعنې په شبِ بَراءَت کښې په عِبادت کښې مصروف وو. چې سر ئې اوچت کړو نو يوه شنه چيټئ ئې اوليده چه د هغې نُور تر اسمانه پورې خور شوے وو، په هغې ليکلے شوي وو: هٰذِهٖ بَرَاءَةٌ مِّنَ النَّارِ مِنَ الۡمَلِكِ الۡعَزِيۡزِ لِعَبۡدِهٖ عُمَرَ بۡنِ عَبۡدِالۡعَزِيۡز يعنې "د خدائے مالك او غالِب له طرفه دا د دوزخ د اور نه د آزادئ چيټئ ده چې د هغه بنده عُمر بن عبدُ العزيز ته عطا شوه."[1]

سُبۡحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! په دې واقعه کښې د اَمِيرُ المُؤمِنِين، حضرت سَيِّدُنا عُمرُبنُ عُبدُ العزيز رحمۃ اللہ علیہ د عظمت او فضيلت اِظهار دے، او ورسره ورسره پکښې د شبِ بَراءَت د عَظَمت او بُزُرګئ اِظهار هم دے. کاش چې مونږ ته هم په شبِ بَراءَت کښې د ډير عبادت کولو توفيق رانصيب شي او په دې شپه د بخښونکو په فهرست کښې مونږ ګناهګاران هم شامِل شو. **الله** پاك دِ مونږ ټول اوبخښي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلم

## په شبِ براءت کښې د کولو يو څو کارونه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! شبِ براءت ډيره مبارکه شپه ده، په دې شپه اديرې ته تلل او هلته فاتحه لوستل د مسلمانانو په معمولاتو کښې دي، دغه شان د نيکانو خلقو مزارونو ته حاضريدل هُم د برکت باعث دي- **مشهور مُفسّرِ قرآن، حکيمُ الاُمَّت**

---

1...تفسير رُوح البيان، جلد:8، صفحه:402۔

حضرت مفتی احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: ❁ که ممکن وي نو د 14 او 15 تاریخ روژه اونیسئ ❁ په 15 شعبان حلوه وغیره پخه کړئ او د بُزُرګانِ دین د اِیصالِ ثواب د پاره ئې صدقه کړئ ❁ د 15شعبان په شپه ټوله شپه ویښ پاتې شئ او نفلونه اوکړئ ❁ په دې شپه دِ هر مسلمان یو بل نه د خپل قُصُور مُعافي اوغواړي ځکه چې د بُغض (یعني په زړه کښې د دُښمنئ) لرونکي مسلمان دُعا نه قبلیږی ❁ که ټوله شپه ویښ نه شئ پاتې کیدے نو چې څومره کیدے شي عبادت اوکړئ او د قبرونو زیارت اوکړئ ❁ که په دې شپه د بیرې 7 پاڼړې په اوبو کښې اوخوټکوئ او غُسل پرې اوکړئ نو اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡعَزِيۡز! ټول کال به د جادو د اثر نه محفوظه شئ.[1]

## خپل مړي یاد اوساتئ!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د شعبان په پینځلسمه شپه خپل هغه خپلوان هم یاد ساتل پکار دي کوم چې د دُنیا نه تلي دي، د خپلو مرحومو خلقو د یاد ساتلو او هغوئي سره د ښیګړې کولو طریقه دا ده چې د رحمتونو او بخښنو په دې شپه کښې د خیرات کولو په ذریعه د هغوئي د اِیصالِ ثواب اهتمام اوکړے شي. اِمام جلالُ الدین سیوطي شافعي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د حضرت عبدُالله بِن عَبَّاس رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ نه روایت دے چې د وړوکي اختر او لوئ اختر په ورځ، د رجب په وړومبئ جُمعه، او د شعبان په پینځلسمه شپه او د جُمعې په شپه د وفات شوؤ خلقو رُوحونه د خپلو کورونو دروازو ته اودریږي او وائي: د صدقے کولو په ذریعه په مونږ رحم اوکړئ اګر که د ډوډئ یوه نمړئ وي. که هغوئي څه څیز اونه موي (یعني د هغوئي د اِیصالِ ثواب د پاره څه صدقه اونکړے شي) نو په ډیره مایوسئ سره بیرته لاړ شي.[2]

---

[1] ...اسلامی زِندگی، صفحه:134۔

[2] ...دُرَرُ الحِسَان، صفحه:33۔

# د شبِ براءت راتلو نه مخکښې د کولو درې کارونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د شعبان په پينځلسمه شپه اعمال نامې بدليږي، ځکه د دې شپې د برکتونو حاصلولو او د بخښنې خيرات حاصلولو د پاره غوره ده چې د شبِ براءت راتلو نه مخکښې مخکښې دا درې کارونه ضرور اوکړے شي:

## (1) توبه اوکړئ

د 14 شَعْبَانُ الْمُعَظَّم د لمَر پريوتلو سره د تير کال اعمال نامه راغونډه کړے شي، ځکه غوره دي چې د شبِ براءت راتلو نه مخکښې مخکښې توبه اوکړے شي. په حديثِ پاك کښې دي، د خوږ نبـي صلَّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلَّم فرمان دے: اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَّا ذَنْبَ لَهٗ د ګناه نه توبه کوونکے داسې دے لکه هغه چې هډو ګناه کړې نه وي.[1]

## ګناهونه په نيکو کښې بدليږي

د توبې ويستلو ډيرې فائدے دي، په دې کښې د ټولو نه لويه فائده دا ده چې که الله پاك اوغواړي نو د توبې په برکت ګناهونه په نيکو کښې بدل کړي. په سيپارۀ 19 سُوْرَۃُ الْفُرقان، آيت: 70 کښې ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| اِلَّا مَنْ تَابَ وَ اٰمَنَ وَ عَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَاُولٰٓىٕكَ یُبَدِّلُ اللّٰهُ سَیِّاٰتِهِمْ حَسَنٰتٍؕ وَ كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا(۷۰) | [مفهوم] ترجمۀ كَنْزُ العِرْفان: خو څوك چې توبه اوکړي او ايمان راوړي او ښه کار اوکړي نو د داسې [خلقو] بدئ به الله په نيکو کښې بدلې کړي. |

[1]...ابن ماجه، كتابُ الزُّہد، جلد:4، صفحه:491، حديث:4250۔

سُبْحٰنَ اللّٰہ! معلومه شوه چې کوم بنده رښتيني توبه اوکړي، په الله پاک او د هغه په رسول صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پوخ اِيمان لري او د توبې ويستلو نه پس د ګناهونو طرف ته بيرته اونه ګرځي بلکه نيکئ کوي، د **الله** پاك راضي کولو والا کارونو کښې مصروفه اوسي، کوم بنده چې داسې اوکړي نو اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیۡم! **الله** پاك به د هغه ګناهونه په نيکو کښې بدل کړي.[1]

## ګناه په نيکو کښې د بدليدلو حکايت

د غيبو خبر ورکوونکے نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: د قيامت په ورځ به يو کس د **الله** پاك په بارګاه کښې پيش کړے شي، حکم به اوشي: د ده واړه ګناهونه ده ته پيش کړئ، هغه ته به د هغه يوه يوه ګناه پيش کړے شي او هغه به د هرې يوې ګناه اقرار کوي او ويريږي به چې اوس به د غټو ګناهونو نمبر راځي، په دې کښې به حکم اوشي: **ستا د هرې ګناه په ځائے** [يعني بدله کښې] **يوه نيکي ده.** نو هغه به عرض اوکړي: مولا! اوس خو لا زما ډير غټ غټ ګناهونه پاتې دي چې د هغې لا ذِکر نه دے شوے (مطلب دا چې اوّل به ويريږي چې په ګناهونو کښې به ګير شم خو چې کله د **الله** پاك رحمت اووينې چې ګناهونه په نيکو کښې بدليږي نو غواړي به چې زما ټول ګناهونه په نيکو کښې بدل شي، په دې وجه به وائي چې: مولا! زما خو لا غټ غټ ګناهونه پاتې دي چې د هغې هډو ذِکر نه دے شوے).[2]

سُبْحٰنَ اللّٰہ! زمونږ د ربِّ کريم د رحمتونو څنګه شان دے. کاش چې د شَبِ براءَت راتللو نه مخکښې مخکښې مونږه رښتيني توبه کولو کښې کامياب شو او چې کله د تير کال اعمال نامه بنديږي چې په هغې کښې يوه ګناه هم پاتې نه وي، کاش چې د رښتينې توبے

---

[1]…تفسیر صراط الجنان، پارہ:19، سورۂ فرقان، زیرِ آیت:70، جلد:7، صفحہ:61 مفصلاً۔

[2]…مسلم، کتابُ الایمان، صفحہ:93، حدیث:190۔

په برکت مو [د اعمال نامې نه] ټول ګناهونه لرې شي، بلکه کاش چې ګناهونه مو په نيکو کښې بدل شي نو بيا خو به ډيرې مزے شي-

## د توبه کولو طريقه

ياد ساتئ! زمونږ خلق توبه ډير معمولي څيز ګڼړي ❁ بعضې خلق خپل رُخسارونه په قلاره قلاره شان اوټپوي او وائي: توبه! توبه! ❁ بعضې خلق غوږونو او پوزې له لاس وروړي ❁ بعضې خلق خپله ژبه په غاښونو کښې زور کړي او دوه درې ځله توبه توبه اووائي، دا توبه نه ده، **د رښتيني توبے درې ارکان دي**: **(1)** په ګناه باندې په دې وجه پښيمانه کيدل چې دا د **الله** پاك نافرماني ده، مثلاً چا سُودي کاروبار اوکړو، نو په سودي کاروبار باندې د پښيمانه کيدو ډيرې وجهې کيدے شي: ❁ چا د سود په لين دين کښې تاوان اوکړو نو ځکه پښيمانه شو ❁ د سودي کاروبار په وجه ترينه د کور خلق يا دوستان ملګري خفه دي، په دې وجه پښيمانه شو، نو داسې پښيمانتيا د توبے د پاره کافي نه ده بلکه د توبے د پاره ضروري ده چې سُود د **الله** پاك نافرماني اوګڼړي او د **الله** پاك د عذاب نه د ويريدلو په وجه پښيمانه شي. **(2)** دويم رکن ئې دا دے چې بنده هغه ګناه سمدستي پريږدي، داسې نه چې ګناه هم کوي او توبه هم کوي، دا توبه نه ده بلکه مَعاذَ الله! ټوقې دي. د رښتيني توبے د پاره ضروري ده چې ګناه پريږدي، بيا توبه اوکړي **(3)** د رښتيني توبے دريم رکن دا دے چې بيا د هغې ګناه نه کولو پخه اراده اوکړي. دا درې ارکان چې پوره شي نو دې ته رښتيني توبه وائي.

## (2) د نورو نه مُعافِي اوغواړئ

دويم ډير اهم کار دا دے چې د شَبِ براءَت راتلو نه مخکښې مخکښې په ځان پورې د بندګانو حقونه [په هغوئي] مُعاف کړئ. دا هم د توبے يوه حِصَّه ده، که چا د يو بنده حق وهلے وي، نو ترڅو پورې چې ئې هغه بنده مُعاف نه کړي، تر هغه وخته پورې هغه نه

مُعاف کيږي، څکه غوره ده چې د شَبِ براءَت راتلو نه مخکښې خپل هر پيژندګلو والا نه احتياطاً مُعافـي اوغوښتے شي، که چرې په غلطئ کښې د چا زړه ته تکليف رسيدلے وي چې د هغې مُعافـي اوشي. دلته د شَبِ براءَت راتلو نه مخکښې په واټس ايپ وغيره باندې يو ميسج چليږي، چې په هغې کښې د نورو نه د مُعافـئ خواست کيږي، دا ښه طريقه ده، خو يو ميسج سل دوه سوه خلقو ته ليږل د مُعافـئ د پاره کافـي نه دي، غوره دا ده چې د چا سره ملاقات کيدے شي، د هغوئي سره ملاقات اوکړے شي، چا ته چې فون کيدے شي، هغه ته فون اوکړے شي، چا ته چې رسيدل نه شي کيدے، هغوئي ته باقاعده د آواز ميسيج يا تحريري پيغام د خپل طرفه ريکارډ کول يا ليکل او ورليږل پکار دي، چې مخامخ کس پوهه چې واقعي دې په سنجيدګئ سره زما نه مُعافـي غواړي، او د چا نه چې مُعافـي غوښتلے کيږي، هغه له هم پکار دي چې خپل مسلمان ورونړه مُعاف کړي او ثواب اوګټي.

## د اِمامِ اهلِسُنَّت رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ پيغام د ټولو مسلمانانو په نوم

اعلٰـی حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ په 11 **شَعۡبَانُ الۡمُعَظَّم** 1334هـ خپل يو عقيدت مند ته د شبِ بَراءَت د راتلو نه مخکښې د توبه او مُعافي تَلافي کولو په حقله يو خط استولے وو. اعلٰـی حضرت رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د نيکئ خومره جذبه لرله....! د خط په ذريعه به ئې هم د نيکئ دعوت ورکولو، **الله** پاك دِ مونږ ته هم د نيکئ د دعوت خورولو توفيق راکړي. خير! د اعلٰـی حضرت رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د خط مبارك خُلاصه دا ده: شبِ بَراءَت نزدې ده، په دې شپه د ټولو بندګانو عَمَلونه د الله پاک په بارګاه کښې پيش کيږي. **الله رَحۡمٰن** و **رَحِيۡم** په بَرَکت د خپل خوږ آخري نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مُسلمانانو ګناهونه مُعاف کوي په دې کښې هغه دوه مسلمانان هم دي

چې په دُنياوي وجه د يو بل نه خفګان ساتي. **الله** پاك فرمائي، دوئي پرېږدئ، ترڅو پورې چې صُلح اونکړي.

څکه اهلِ سُنَّت له پکار دي چې خومره کيدے شي د 14 **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** د لمَر پريوتلو نه مخکښې مخکښې دِ په خپل مينځ کښې [صلح] صفائي اوکړي، د يو بل حقوق ورکړئ يا ئې مُعاف کړئ، چې اعمال نامه د **الله** پاك په بارګاه کښې د بندګانو د حقونو نه خالي پيش شي. اعلٰی حضرت رحمۃ اللہ علیہ مخکښې فرمائي: ټول مسلمانان دې پوهه کړے شي چې د **الله** پاك په بارګاه کښې نه صرف ژبې ته کتلے شي او نه هلته نفاق خوښ دے. څکه روغه او مُعافي په رښتيني زړه سره پکار ده.[1]

يعني مُعافي غوښتلو والا دې په رښتيني زړه سره مُعافي اوغواړي، صرف د خُلې وينا چې "مُعاف مې کړه" يا "مُعافي غواړم" کافي نه دي، دغه شان مُعاف کوونکے دِ هم په رښتيني زړه سره مُعافي اوکړي، په زړه کښې د خِيري ساتلو سره صرف په ژبه وئيل چې مُعاف مې کړې، دا صحيح نه دي. مُعافي غوښتونکي دِ هم په رښتيني زړه سره مُعافي اوغواړي او مُعاف کوونکي دِ هم په رښتيني زړه سره مُعافي اوکړي.

## (3) د زړه نه بُغض او کينه لرې کړئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د رواياتو مطابق کوم بدنصيبه خلق چې د شَبِ براءَت په شان عظيمُ الشَّانه شپه کښې هم د مغفرت او بخښنې نه محرومه پاتې دي، په هغوئي کښې يو بُغض او کينه ساتلو والا هم دے. يعني کوم بنده چې په خپل زړه کښې د يو مسلمان ورور سره پټه دُښمني ساتي، د هغه د پاره هم په دې شپه د بخښنې نه د محرومه کيدو وعيد ده.

---

[1] ...کلياتِ مکاتيبِ رضا، جز:1، صفحه:356۔

یقیناً په مونږ کښې هر یو د بخښنې او مَغفِرت طلب ګار دے، څکه د شَبِ براءَت راتللو نه مخکښې مخکښې د ټولو ګناهونو نه توبه کولو سره سره دا هم ضروري دي چې مونږ خپل زړه هُم صفا کړو، چې په زړه کښې مو د چا سره بُغض او کینه (یعني پټه دښمني) او د چا سره حسد، او د چا د پاره څه خِیرے پاتې نه شي.

## قَلبِ سلیم څه ته وائي؟

په سیپاره 19، سورۂ شُعَراء، آیت: 88 او 89 کښې ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَّ لَا بَنُوْنَ ﴿۸۸﴾ إِلَّا مَنْ أَتَى اللّٰهَ بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ ﴿۸۹﴾ | [مفهوم] ترجمۂ کَنزُ الایمان: په کومه ورځ به چې نه مال په کار راځي نه ځامن، خو هغه کس چې د الله دربار ته حاضر شو، سلامت زړه سره. |

معلومه شوه چې د قیامت په ورځ به نه مال په کار راځي، نه به اولاد په کار راځي، د قیامت په ورځ به قلبِ سلیم په کار راځي. قلبِ سلیم څه خیز دے؟ ❁ هغه زړه چې د کفر او شِرك نه پاك وي ❁ په کوم زړه کښې چې بدعقیدګي نه وي ❁ هغه زړه کوم چې د باطني بیمارونه نه پاك وي ❁ په کوم کښې چې حسد نه وي ❁ بُغض پکښې نه وي ❁ کینه پکښې نه وي ❁ د دُنیا مینه پکښې نه وي ❁ داسې پاك زړه والا به د قیامت په ورځ کامیاب وي.

## په خلقو کښې افضل څوك....؟

حضرت عبدُالله بِن عمر رضی اللہ عنھما فرمائي: د خوږ آقا صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم په خدمت کښې عرض اوکړے شو: اَیُّ النَّاسِ اَفْضَلُ؟ یَا رَسُولَ اللّٰه صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم! په خلقو کښې افضل څوك دے؟ اوئې فرمائیل: کُلُّ مَخْمُوْمِ الْقَلْبِ، صَدُوقُ اللِّسَان هر هغه بنده څوک چې مَخمُوم القَلب دے او رښتیني ژبې والا دے. صحابۂ کرامو عرض اوکړو: یَا رَسُولَ اللّٰه صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم! صَدُوقُ اللِّسَانِ (یعني رښتیني ژبے والا) څه ته وائي، دا

خو مونږه پیژنو خو **مَخْمُوْمُ الْقَلْب** څوك دے؟ اوئې فرمائیل: هغه مُتَّقــي انسان چې هیڅ ګناه پرې نه وي، چې د هغه په زړه کښې نه سرکشي وي، نه کینه او نه حسد وي.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! معلومه شوه چې د چا ژبه رښتینې وي، دروغ نه وائي او د چا په زړه کښې چې سرکشي نه وي، نه کینه وي، نه بُغض وي او نه حسد وي، هغه بنده لوئ فضیلت والا دے.

## درې ځله ورته د جنَّت زیرے میلاؤ شوے وو

صحابـیٔ رسول حضرت اَنَس بِن مالِك رضی اللہ عنہ فرمائي: مونږ د خوږ آقا، مکي مدَني مصطفٰی صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم په خدمت کښې حاضر وو، خوږ نبــي صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم اوفرمائیل: **يَطْلُعُ عَلَيْكُمُ الْآنَ مِنْ هٰذَا الْفَجِّ رَجُلٌ مِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ** اوس به ستاسو خوا ته په دې لاره یو جَنَّتــي سړے راشي. نو یو اَنصاري صحابــي رضی اللہ عنہ د هغه طرفه راغلو، د هغوئې ګیره مبارکه په اوبو لَمْده وه، په ګڅ لاس کښې ئې پیزار راخستے وو او راروان وو.

په دویمه ورځ بیا نبــي کریم صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم اوفرمائیل: اوس به ستاسو خوا ته په دې لاره یو جَنَّتــي سړے راشي. په دویمه ورځ هم هغه اَنصاري صحابــي رضی اللہ عنہ راغلو، په دریمه ورځ بیا داسې اوشو [یعني بیا هم هغه اَنصاري صحابــي رضی اللہ عنہ راغلو] . حضرت عبدُالله بِن عَمرو رضی اللہ عنہما فرمائي: بیا زه د هغه اَنصاري صحابــي رضی اللہ عنہ کور ته ورغلم او خواست مې ورته اوکړو چې زه ستاسو میلمه پاتې کیدل غواړم. زه د هغوئې سره درې ورځې پاتې شوم، په دغه دوران کښې ما هغوئې رضی اللہ عنہ د شپې په قیام (یعني په زیاتو نفلونو کولو) اونه لیدلو، آؤ! دومره ضرور وو چې کله به په

---

1 ...ابنِ ماجه، کتابُ الزُّہد، جلد:4، صفحه:475، حدیث:4216۔

بستره کښې په ډېره اوږيدلو نو ذِکرُ الله به ئې کولو، يو ښه عادت ئې دا هم وو چې هغوئې به ښه خبره کوله يا به چپ پاتې کيدو. چې کله درې شپې تيرې شوې نو ما هغوئې ته اصلي خبره بيان کړه چې خوږ نبـي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم درې ورځې پرله پسې د جنَّت زيرے واورولو او درې واره ورځې د دې زيرې مستحق تاسو جوړ شوئ. ما غوښتل چې ستاسو په صحبت کښې پاتې شم او ستاسو عمل اووينم، خو ما ستاسو څه زيات عمل اونه ليدو. هغه صحابـي رَضِیَ اللهُ عَنْہُ اوفرمائيل: زما عمل هم هغه دے کوم چې تاسو ليدلے دے، البته يو عمل بل هم دے او هغه دا دے چې زه په خپل زړه کښې يو مسلمان سره هُم کِينه نه ساتم او نه کوم مسلمان ته په ملاويدونکي نِعمَت حسد کووم. حضرت عبدُالله بِن عَمرو رَضِیَ اللهُ عَنْہُمَا فرمائي: آؤ! هم دا هُغه صِفَت دے کوم چې تاسو دې مقام ته رارسولي ئې.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! اے عاشِقانِ رسول! تاسو اوليدل! زړه پاك ساتل، په زړه کښې د چا سره بُغض او کينه نه ساتل، د چا سره حسد نه کول، د چا په باره کښې په زړه کښې خِيرے نه ساتل جنَّت ته بوتلونکے عمل دے او بل طرف ته غور اوکړئ چې په زړه کښې بُغض او حسد ساتلو والا څومره بدبخته دے چې په شَبِ براءَت کښې هم د بخښنې او مغفِرت نه محرومه پاتې کيږي، څکه مونږ له پکار دي چې د شَبِ براءَت راتلو نه مخکښې مخکښې خپل زړونه صفا کړو، د خپل زړه خِيرے لرې کړو،

د چا سره مو که خفګان راغلے وي چې لرې ئې کړو، د خپلوانو سره مو که څه خفګان راغلے وي، که په کومه دُنياوي مسئله مو ورسره جګړه وي، که د يو بل نه جُدا شوي يو، نو چې دا هر څه ختم کړو. تاجدارِ رِسالَت صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي:

---

1 ...شُعَبُ الایمان، جلد:5، صفحه:264، حدیث:6605۔

څوک چې په باطل باندې وي او جګړه پرېږدي، **اللّٰه** پاك به د هغه د پاره د جنَّت په يو ګوټ کښې کور جوړ کړي، او څوک چې په حقه وي او جګړه پرېږدي، **اللّٰه** پاك به د هغه د پاره د جنَّت په بره درجه کښې کور جوړ کړي.[1]

## د شبِ براءت يو څو نفلونه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** راځئ! چې په آخر کښې په شَبِ براءَت کښې د ادا کيدونکو يو څو نفلونو په باره کښې واورو:

## د ماښام 6 نفلونه

د اولياۓ کِرامو رَحِمَهُمُ اللّٰه تعالٰی د معمولاتو نه دي چه [د شَعبان په پينځلَّسمه شپه] د ماښام د فرضو او سُنَّتو وغيره ادا کولو نه پس شپږ رکعته خُصوصي نفلونه په دوه دوه رکعته کولو ادا کړے شي. **وړومبني** دوو رکعاتو نه مخکښې دا نيت اوکړئ: "يا **اللّٰه** جَلَّ جَلَالُهٗ د دې دوو رکعتو په بَرَکت ما ته ډير عُمر سره د خيره راکړې"، **د دويم** دوو رکعتو نه مخکښې دا نِيَّت اوکړئ: "يا **اللّٰه** جَلَّ جَلَالُهٗ د دې دوو رکعتو په بَرَکت د مصيبتونو نه زما حفاظت اوکړې." **د دريم** دوو رکعتو نه مخکښې دا نِيَّت اوکړئ: "يا **اللّٰه** جَلَّ جَلَالُهٗ د دې دوو رکعتو په بَرَکت ما د خپل ځان نه سِوا د بل چا مه مُحتاجه کوې." په دې شپږو رکعتو کښې د **سُوۡرَةُ الۡفَاتِحَه** نه پس چه کوم سورت غواړئ لوستے شئ، غوره داده چې په هر رکعت کښې د **سُوۡرَةُ الۡفَاتِحَه** نه پس درې درې ځله **سُوۡرَةُ الۡاِخۡلَاص** اولولئ. د هرو دوو رکعتو نه پس 21 ځله **قُلۡ هُوَاللّٰهُ اَحَد** (پوره سورت) يا يو ځل **سُوۡرَه يٰسٓ** شريف اولولئ، که کيدے شي نو دواړه اولولئ. داسې هم کيدے شي چه يو اسلامي ورور دِ په اوچت اواز **يٰسٓ** شريف لولي او نور دِ ئې په خاموشئ سره ښه په غور اوري. په دې کښې داخيال کوئ چه بل څوک په دې وخت

---

[1] ...ترمذى، كتابُ البر و الصِّلة، جلد:3، صفحه:400، حديث:2000۔

کښپې په ژبه یٰسٓ شریف بلکه هیڅ هم نه وائي او دا مسئله ښه یاده ساتئ چه کله په اوچت اواز قرآن مجید لوستلے کیږي، کوم خلق چه د اوریدو د پاره موجود وي په هغوئي دا فرضِ عین دي چه خاموشه اوسي او په غور سره ئي اوري. اِنْ شَآءَ الله تعالیٰ د شپې د شروع کیدو نه مخکښې به د ثواب انبار جوړ شي. هر ځل د یٰسٓ شریف نه وروسته "دُعائے نصفِ شَعبَان" هم لولئ.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د 20 قبول شوؤ حجونو او 20 کالو روژو ثواب

د مسلمانانو څلورم خلیفه اَمِیْرُ الْمُؤْمِنِیْن، حضرت عَلِیُّ الْمُرتَضٰی رضی الله عنه فرمائي: شَبِ براءَت وو، ما اولیدل چې خوږ آقا صلّی الله علیه واٰله وسلّم لمُونځ کولو، هغوئي صلّی الله علیه واٰله وسلّم 14 رکعته لمُونځ اوکړو، لمَانځه نه د فارغیدو نه پس خوږ نبي صلّی الله علیه واٰله وسلّم کښیناستلو او 14 ځله ئې سورهٔ فاتحه، 14 ځله ئې سورهٔ اِخلاص (قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَد)، 14 ځله ئې سورهٔ فَلَق (قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَق)، 14 ځله ئې سورهٔ النَّاس (قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاس) او یو ځل ئې آیَةُ الْکُرْسِی او په آخره کښې ئې د دې آیتِ کریمه تلاوت اوفرمائیلو:

لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِیْزٌ عَلَیْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِیْصٌ عَلَیْكُمْ بِالْمُؤْمِنِیْنَ رَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ (۱۲۸)

(پارہ:11،سورۂ تَوْبَہ:128)

[مفهوم] ترجمهٔ کَنْزُ الایمان: بے شکه تاسو ته تشریف راوړو ستاسو نه هغه رسول چې ستاسو په مشقت کښې پریوتل په هغوئي باندې ګران دي، ستاسو ډیر ښیګړه غوښتونکے دے، په مسلمانانو باندې مهربانه ډیر مهربانه دے.

حضرت عَلِیُّ الْمُرتَضٰی رضی الله عنه فرمائي: چې کله خوږ آقا صلّی الله علیه واٰله وسلّم فارغه شو نو ما ترینه د دې په باره کښې تپوس اوکړو نو اوئې فرمائیل: اے علی! څوك چې

داسې عمل اوکړي کوم چې تا اولیدو نو د هغه د پاره به د **20** حجونو او د **20** کالو قبولو شوؤ روژو ثواب لیکلے کیږي.[1]

## د شبِ براءَت د 100 نفلونو فضیلت

علامه احمد صاوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: څوك چې په شَبِ براءَت کښې 100 رکعته نفل ادا کړي، **الله** پاك به هغه ته 100 فرښتې راولیږي، 30 فرښتې به هغه ته د جنَّت زیرے ورکوي، 30 فرښتې به ئې د عذاب نه بچ کوي، 30 فرښتې به ئې د دُنیا د آفتونو نه لرې ساتي او باقي 10 فرښتې به ئې د شیطان د مکر او فریب نه بچ کوي.[2]

علامه ضیاءُ الدِّین دِیرِینـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه د هُم دې 100نفلونو په باره کښې فرمائي: د **الله** پاك نیك بندګان په شبِ براءت کښې 100 نفلونه داسې کوي چې په هر رکعت کښې د سورۀ فاتحه نه پس لس ځله سورۀ اِخلاص (قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ) لولي. اِمام حَسَن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: ما ته 30 صحابۀ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوان دا حدیث بیان کړے دے چې چا دا لمُونځ ادا کړو، **الله** پاك د هغه طرف ته اویا ځله د کرم نظر فرمائي او د هر نظرِ کرم په بدله د هغه اویا حاجتونه پوره کوي، په هغې کښې یو حاجت دا دے چې د هغه بنده بخښنه اوکړے شي.[3]

## صَلٰوةُالتَّسْبِيْح هُم ادا کړئ!

حضرت عَلَّامه علي قاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: بهتره دا ده چې په شَبِ بَراءَت کښې صَلٰوةُ التَّسبِيح هُم ادا کړے شي (4) . د دې لـمانځه ډیر زیات ثواب دے، د ابو داؤد شریف په

---

1 …شعب الایمان، جلد:3، صفحه:386، حدیث:3841۔

2 …حاشیه صاوی علی الجلالین، پاره:25، سورۀ دخان، زیرِ آیت:3، جلد:3، صفحه:256۔

3 …طهارۃ القلوب، صفحه:136۔

4 … مجموع رسائل العلامه الملا علی القاری، الرسالة: التبیان…الخ، جلد: 3، صفحه: 51۔

حديثِ پاک کښې دي چې، شَهَنشاهِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل تره مبارك حضرتِ سيِّدُنا عبّاس رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْه ته اوفرمائيل چې اے زما تره! که کيدے شي نو صَلٰوةُ التَّسبِيح هره ورځ يو ځل کوئ او که هره ورځ نه شي کيدے نو په هره جُمُعَه ئې يو ځل کوئ او که داسې هُم اونکړے شئ نو په هره مياشت کښې يو ځل او که دا هم نه شي کيدے نو په کال کښې يو ځل او که د دې هُم طاقت نه وي نو په ژوند کښې يو ځل ضرور صَلٰوةُ التَّسبِيح ادا کړئ.

د صلٰوةُ التَّسبِيح طريقه د شيخ طريقت، امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه کتاب: مدني پنج سُوره، صفحه: 279 کښې اولولئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار "هفته واره اجتماع"

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! نيك جوړيدو، ګناهونو نه د بچ کيدو او په نيکو باندې د استقامت موندلو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ او د ذِيلي حلقے په 12 ديني کارونو کښې په اخلاص سره خپله حِصَّه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د دې په برکت به د دين او دُنيا بے شميره برکتونه درنصيب شي. د ذِيلي حلقے په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار "**هفته واره اجتماع**" هم ده. تاسو هم په دې هفته واره اجتماع کښې پابندئ سره شرکت کوئ! د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ډير علمِ دِين زده کړئ، په نيکه اجتماع کښې د شرکت ثواب به هُم په لاس درځي، زړه به مو پاك شي او د ګناهونو نه به مو نَفرت هُم پيدا شي او که **الله** پاك اوغواړي نو بخښنه به مو هم نصيب شي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې په غټو شپو کښې مَثَلاً شَبِ براءَت، شبِ قدر، شبِ معراج وغيره کښې هُم د اجتماعاتو اهتمام

کيږي: ❁ په شبِ براءت کښې د دعوتِ اسلامي مدني مرکزونو فضانِ مدينه او د شعبهٔ ائمه مساجد زير انتظام جماتونو کښې د مابنام د جمعې نه پس د شبِ براءت د شپږو نفلونو ترغيب هم ورکولے کيږي. او خوش نصيبه عاشقانِ رسول د دې نفلونو کولو سعادت هم حاصلوي ❁ د قرآنِ کريم تلاوت هم کيږي، ❁ بيا د ماسخُوتَن د لمَانځه نه پس د شبِ براءت اجتماع هم کيږي ❁ په دې کښې تلاوت، ❁ نعت، ❁ د سُنَّتو ډك بيان ❁ او د ژړوونکي دُعا سلسله هُم وي، ټوله دنيا کښې په لکونو عاشقان رسول دې پاکه اجتماع کښې خپلو خپلو ښارونو کښې برخه اخلي، دا اجتماع ټوله شپه وي او په آخر کښې د 15 **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** نفلي روژے نيولو د پاره د پيشمني اهتمام هم کيږي. نيک بخته عاشقان رسول د پينځلسم **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** د نفلي روژې نيولو سعادت هم حاصلوي- ډير ښکلے او زړه نرموونکے ماحول وي. تاسو هم په دې اجتماع کښې د شرکت کولو او د شعبان پينځلسمه شپه په نيکو کښې د تيرولو نِيَّت اوکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ډير برکتونه به در نصيب شي. راځئ چې د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے واورو:

## د ګناهونو ډک ژوند کښې مدني انقلاب

د لاهور (پنجاب) د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: د دعوتِ اسلامي "ديني ماحول"سره د تړون نه مخکښې به زه زيات د بدمذهبو په صحبت کښې پاتې کيدم او د دې سره سره په نورو ډيرو ګناهونو کښې هُم ګرفتار ووم، زما د ګناهونو نه ډك ژوند کښې د نيکو سپرلے داسې راغے چې يو ځل يو اسلامي ورور ما ته د **شبِ بَراءَت** په سلسله کښې کيدونکي د سنتو ډکه اجتماع کښې د د شرکت کولو دعوت راکړو، ما د هغوئي دعوت قبول کړو او د شبِ براءت په اجتماع کښې شريك شوم، د دعوتِ اسلامي د مُبَلِّغ پر سوز او ژړوونکي بيان اوريدو سره زه په خپلو ګناهونو پښيمانه

شوم، په ما باندې د **الله** پاك د نارضګئ ويره راغله او د سترګو نه مې اوښکې روانې شوې! د اجتِماع په آخره کښې يو اسلامي ورور ما ته د دريو ورځو مدني قافله کښې د سفر کولو ترغيب راکړو، زما د زړه دُنيا د مخکښې نه بدله شوې وه، ځکه زه د مدني قافلے مسافِر جوړ شوم. په مدني قافله کښې د عاشقانِ رسول د شفقتونو [يعني مهربانو] نه ډك صحبت کښې د اوسېدو [په برکت] ما ته د بے شميره سنتونو زده کولو سعادت حاصل شو. اَلْحَمْدُلِلّٰه! ما د خپلو تيرو شوو ټولو ګناهونو نه توبه ويستله. چې کله د روژې مبارکه مياشت راغله نو ما د عاشقانِ رسول سره په آخرئ عشره کښې د **اِعتِکاف** سعادت هُم حاصل کړو. په اِعتِکاف کښې په اوويشتمه شپه يو خوش نصيبه اسلامي ورور ته اَلْحَمْدُلِلّٰه د سرکارِ دوعالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو، دې خبرې زما په زړه کښې د **دعوتِ اسلامي** مينه نوره هم زياته کړه، او زه مُکمَّل طور د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره وابسته شوم.

## "القرآنُ الكريم" ايپلي كيشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** دعوتِ اسلامي مونږ ته د موبائل په ذريعه هم د نيکو ګټلو موقعے راکوي. د دعوتِ اسلامي د آئي. ټي ډيپارټمنټ له طرفه يو موبائل ايپلي کيشن جاري شوے دے، چې نوم ئې ***Al Quran al kareem*** (القرآن الكريم) دے. دا ايپلي کيشن د ***Android*** او ***IOS*** دواړو ډيوائسز په ذريعه په آسانئ سره ډاؤن لوډ کيدے شي، په دې موبائل ايپلي کيشن کښې ❁ د پوره قرآن کريم لوستلو ❁ او د مختلفو قاريانو په آوازونو کښې د اوريدلو سهولت موجود دے ❁ د دې سره سره يو مخصوص سُورت يا آيت هم ***Bookmark*** کولے شئ يعني بار بار لوستونکے سورت يا آيت د ***Bookmark*** په ذريعه په آسانئ سره لوستلے شئ.

دا ايپلي کيشن په خپل موبائل کښې انستال کړئ، پخپله ترينه هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ.

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې ځله اِرشاد اوفرمائيل: "زما په نائب دِ د **الله** پاك رحمت وي، عرض اوکړے شو: حُضُور! ستاسو نائب څوك دے؟ اوئې فرمائيل: زما د سُنَّتو سره محبت کوونکي او نورو ته زده کوونکي.[1]

| | |
|---|---|
| کروں کاش! سُنّت کے مطابق میں ہر اِک کام | تُو پیکرِ سُنّت مجھے اللہ بنا دے[2] |
| اے کاش! زما هر کار شي د سُنَّتو مطابق | پيکر کړې د سُنَّتو ما، زما خوږه مَولٰى |

## د ګوَتمې په باره کښې سُنَّتونه او آداب

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د نارينؤ د پاره د سرو زرو ګوَتـمه په ګوته کول حرام دي. سرکارِ دوجهان صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سرو زرو ګوَتـمې په ګوته کولو نه منع فرمائيلې ده ❁ نابالغه (يعني وړوکي ماشوم هلك) ته هم د سرو زرو کالي اچول حرام دي او چا چې ور واچول هغه به ګنهګار وي، ❁ دغه شان د ماشومانو هلکانو په لاسونو او ښپو باندې بے ضرورته نکريزې لګول جائز نه دي، زنانه ئې په خپلو لاسونو او ښپو ايښودے شي، خو که هلك له ئې کيښودې نو ګنهګاره به شي ❁ د اوسپنې ګوتمه د جهنميانو کالے دے ❁ د نارينؤ د پاره هغه ګوتمه جائز ده کومه چې د نارينؤ د ګوتمو په شان وي يعني صرف يو غمے پکښې وي او که په هغې کښې د يو نه زيات غمي

---

1...جامع بیانِ عِلم، بَابُ:عِلْم کے فضائل، جلد: 1صفحه:201، حدیث:220۔

2...وسائل بخشش، صفحه:118۔

وي نو که هغه د سپينو زرو هم وي نو بيا هُم د نارينه د پاره ناجائز ده، ❁ بغير غمي نه ګوتمه په ګوته کول ناجائزه ده ځکه چې دا ګوتمه نه ده حلقه ده❁ د سپينو زرو يوه ګوَتمه کښې د يو غمي چې وزن ئې د څلور نيمې ماشے (يعني څلور ګرامه او 374 ملي ګرام) نه کم وي، په ګوَته کول جائز دي، ❁ په اخترونو کښې ګوَتمې په ګوَته کول مُستحب دي. خو نارينه دې هغه جائزې ګوَتمې په ګوَته کوي❁ نارينه له پکار دي چې د ګوَتمې غمے ورغوي طرف ته ساتي او زنانه دې د ګوَتمې غمے د لاس شا طرف ته ساتي ❁ د سپينو زرو حلقه [په ګوته کولو والا بے غمي رِنګ] خاص د زنانو لباس دے، د نارينۀ د پاره مکروهِ (تحريمي، ناجائزه او ګناه) ده، ❁ زنانه د سپينو او سرو زرو چې څومره غوارې، ګوَتمې او حلقې په ګوَته کولے شي، په دې کښې د وزن او د غمو د شمير څه قيد نشته، ❁ که د اوسپنې ګوَتمې ته د سپينو زرو اوبه داسې ورکړے شي چې اوسپنه پکښې بالکل نه ښکارې، نو بيا د دې ګوَتمې په ګوَته کول (نارينه او زنانه دواړو له) منع نه دي.[1]

د سُنَّتونو زده کولو د پاره د بهارِ شريعت جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شيخِ طريقَت، اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو کتاب "550 سُنَّتيں اور آداب" واخلئ او اولولئ ئې. د سُنَّتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه عاشِقانِ رَسُول سره په مَدَني قَافِلو کښې سفر کول هُم دي.

اللّٰه پاک دِ مونږ د عمل کولو توفيق راکړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1 ...550سنتيں اور آداب، صفحه:5857ملتقطاً۔